# په پښتو شعري ادب کښې د سانېټ مقام

# The value of sonnet in Pashto literature

Fida Hussain
Dr. Sher Zaman Seemab

Issn 2304-1463

## Abstract:

A sonnet is a poem of fourteen stanzas in which an idea or an impression is expressed. It is a type of poem which belongs to an Italian origin. The term sonnet was used for first time In Italy in sixteenth century and arrived from the Italian literature to Urdu through English literature and after from Urdu it's come to Pashto literature.

In English and Urdu literature, there are some great name of poets in this genre of poetry, but in Pashto literature, this genre of poetry has not yet get like the same position as in other literature of Western or Urdu literature. However, some pashtun writers and poets like Dr. Salma Shaheen, Dr. Abdullah Jan Abid and Dr. Farzana Ghani are argue that there are poets like Mr. Hashim Babar, Professor Muhammad Nawaz Tahir, Dr. Aminul Haque Amin, Mr. Salim Raz and Abdul Rahim Majzoob etc. have worked on sonnet poems in Pashto literature.

---

**Fida Hussain**
**PhD Scholar Pashto academy University of peshawar**

**Dr.Sher Zaman Semab**
**Assistant prof Pashto academy University of Peshawar.**

## د سانېټ پېژندګلو:

سانېټ د اطالوي ژبې ټکے دے چې د لفظ "سانېټو" (Sonneto) نه اخذ کړے شوے دے ، په پښتو ژبه کښې که ددې لفظي معنیٰ اوکړې شي نو د دې د پاره به راګ ، لنډ اواز او يا لنډه سندره يو موزون ټکے وي خو ولې د پښتو او اردو په شمول د نړۍ په ډېرو ژبو کښې هم د نظم دغه هيئت د سانېټ په نوم پېژندے شي. په اصطلاح کښې سانېټ هغه شعري صنف دے چې څوارلس مصرعې لري او يو تاثر پکښې بيان شوې وي يا په يو موضوع ليکلے شوے وي او د مقرر کړې شوي قاعدې او اصولو په بنياد پکښې د قافيود ترتيب خيال ساتلے شوي وي. ډاکټر عارف نسيم د سانېټ په حقله ليکي:

"دا د څوارلسو مصرعو نظم وي. په مغرب کښې د دې خاص اوزان او قافيې دي. په اردو کښې د اوزانو پابندي اونۀ شوه. د سانېټ درې شکله دي."[1]

ډاکټر کرن خان د سانېټ پېژندګلو داسې کوي.

" سانېټ د ۱۴ مصرعو نه جوړ يو منظوم صنف دے چې اوس په پښتو جديد منظوم ادب کښې رواج لري او مختلفو شاعرانو په کښې تشکيلات کړي دي. د دې صنف جوړښت داسې دے چې څلور قالبونه لري. لومړي درې قالبونه دولس مصرعې لري چې هر قالب کښې څلور مصرعې وي اخرې قالب کښې دوه مصرعې وي. د دې صنف دا اخرې دوه مصرعې يو کاپلټ وې چې د پوره صنف مفهوم بيانوي. د دې صنف اخرې پېغام هم په دې دوؤ مصرعو کښې وي."[2]

دلته ډاکټر کرن خان صرف د شېکسپئري سانېټ د ساخت يا هيئت ذکر کړے دے د ساخت په بنياد د سانېټ نور ګڼ قسمونه دي چې د قافيو د ترتيب په بنياد د يو بل نه مختلف دي وروستو به د دغې ټولو وار په وار ذکر کېږي.

ډاکټر سلمیٰ شاهين د سانېټ پېژندګلو په دې ټکو کوي:

" د څوارلسو کرښو یو ورکوټي شان نظم ته سانېټ وائي - د شعر دا شکل د اټلي نه راغلے دے - د هغه ځائے پټرارخ (پېټرارک) دې د پاره مشهور دے - په شپاړسمه صدۍ کښې سانېټ انګرېزي ادب ته راغلو او تر ننه پورې لیکلے کېږي - په انګرېزۍ کښې شېکسپئر، ډون، ملټن، ورډزورتھ، کېټس د سانېټ د پاره مشهور دي - "[3]

ډاکټر فرزانه غني په "ادبي اصناف" کښې د سانېټ په حواله لیکي -

" سانټ (Sonnet) د اطالوي ژبې سونټو (Sonnetto) نه وتے دے چې معني ئې د ورې سندرې ده - دا په اصل کښې په څوارلس مصرعو مشتمله وي او زیات تر دا په دوه بندونو کښې وي اولنے بند اته مصرعې وي چې د دوېم بند په مقابله کښې لږ لوئي وي - او دوېم بند ورو کے شپږ مصرعې وي په ټول نظم کښې یو خیال بیان شوے وي یو مقصد پکښې بیان شوے وي په دې کښې د بحر، وزن او قافیې خاص خیال ساتلے شي - "[4]

ډاکټر فرزانه غني چې د سانېټ د دوؤ بندونو کوم ساخت ښودلے دے دا صرف د پېټرارک یا اطالوي سانېټ هیئت دے خو د هیئت یا ساخت په حواله د اردو سانېټ نه علاوه د سانېټ نور درې قسمونه دي ، او دغه قسمونه د قافیو د ترتیب په بنیاد د یو بل نه لږ مختلف دي د کومو چې لاندې په تفصیل ذکر شوے دے -

اطالوي یا پېټرارک سانېټ

انګرېزي یا شیکسپئري سانېټ

سپېنسري سانېټ

(1) اطالوي یا پېټرارک سانېټ:

هر څو که د دې بنیاد په اټلي کښې کېښودے شوے دے خو په انګرېزۍ کښې دا شعري صنف د ټولو نه زیات مقبول او معروف دے او په شاعرانو کښې ددې رواج زیات بیامونددے شي.

ددې بنیاد یو اطالوي شاعر پېټرارک (Francesco Petraca) کېښودے دے. د ابوالاعجاز د وینا د مخې پېټرارک ۳۱۷ سانېټ لیکلي دي[5].

د سانېټ د دې هیئت په حقله یو انګرېز لیکوال Paul Fussell. لیکي.

> "The Petrarchan sonnet, at least in its Italian-language form, generally follows a set rhyme scheme, which runs as follows: abba abba cdc dcd. The first eight lines, or "octave," do not often deviate from the "abba abba" pattern, but the last six lines, or "sestet," frequently follow a different pattern, such as "cde cde," "cde ced," or "cdc dee.".[6]

ترجمه: د پېټرارک سانېټ، چې لږترلږه د هغې په ایټالوي ژبه کې دے، په عمومي ډول د نظم یو ترتیب شوے قسم دے، کوم چې په لاندې ډول مخ په وړاندې ځي: abba abba cdc dcd. لومړنۍ اته کرښې، یا "اوکټیو(مثمن)" اکثر د "ا،ب ،ب ا،ا،ب،ب، ا ترتیب څخه انحراف نهٔ کوي، مګر وروستۍ شپږ کرښې، یا "مسدس" په مکرر ډول بېلابېل ترتیبونه تعقیبوي، لکه "cde cde ، "cde ced، یا "cdc dee".

دا د سانېټ د ټولو نه وړومبنے یا زوړ قسم دے چې کلاسیک سانېټ هم ورته وئیلے شو. د سانېټ دا قسم په څوارلسو مصرعو مشتمل وي چې دوهٔ بندونه لري اولنے بند په اتهٔ مصرعو او دویم بند په شپږو مصرعو مشتمل وي.

اولنے بند چې مثمن هم ورته وائي او په اتهٔ مصرعو مشتمل وي په دې کښې دوهٔ قافیې په لاندې ترتیب راوړې شوې وي.

----۱ ، -----ب، -----ب، -----ا ، -----ا، -----ب، -----ب ، ------ا

ددې ترتیب په بنیاد دا وئیلے شو چې د اولنې بند اولنۍ ، څلورمه ، پنځمه او اتمه مصرعه به یو شان قافیه لري او دغه شان ددې بند دوېمه، درېمه ، شپږمه او اوومه مصرعه به یو شان قافیې لري. د پېټرارک سانېټ دا وړومبۍ برخه چې اتۀ مصرعې لري او مثمن ورته وائي دا به همېشه په یو هیئت کښې لیک وي یعني د دې د مصرعو ساخت به هم په دغه پورته ورکړې شوي ترتیب سره وي .ددې سانېټ دوېمه برخه کومه چې په شپږو مصرعو مشتمله وي او مسدس هم ورته وائي په دې کښې د قافیو تعداد مختلف کېدے شي . که چرې د سانېټ په دې برخه کښې دوۀ قافیې راوړې شوي وي نو بیا به ئې د قافیو ترتیب داسې وي.

-----ج -----د -----ج -----د -----ج -----د

یعني نهمه ، یوولسمه او دیارلسمه مصرعه به هم قافیه وي او دغۀ شان د لسمې، دولسمې او څوارلسمې مصرعې قافیه به یو شان وي.

که چرې ددې سانېټ په دوېم بند کښې درې مختلفې قافیې راوړې شوې وي نو بیا به ددغې مصرعو د قافیو ترتیب په دې ډول وي.

------ج------د-------ه ------ج ------د -------ه

یعني د درې قافیو په صورت کښې به نهمه او دولسمه،لسمه او دیارلسمه او دغه شان ، یوولسمه او څوارلسمه مصرعه هم قافیه وي.

سانېټ د یو شاعر د جذباتو او احساساتو ترجماني کوي او یو خیال او یوه موضوع پکښې بیان شوې وي . د پېټرارک سانېټ اولنۍ برخه کومې ته چې مثمن هم وئیلے شي او په اتۀ مصرعو مشتمله وي دا برخه شاعر د تمهید په طور وړاندې کوي په دې کښې یو سوال یا یوه مسئله رامخې ته کوي .ددې اتۀ مصرعو یا کرښو نه پس شاعر وقفه کوي او د قصیدې په رنګ د ګریز نه کار اخلي . د سانېټ په اصطلاح کښې د وقفې دې برخې ته وولټا(Volta) وائي . د سانېټ په دوېمه برخه کښې شاعر د اولنۍ برخې په تردید کښې د مسئلې په حل زور ورکوي، د ګریز نه پس د شاعر خیال یکدم بدلېږي او خپله موضوع یو دوېم اړخ ته بوځي په کوم کښې چې شاعر په اولنۍ برخه کښې راوړې شوي مسئلې یا سوال ، جواب په داسې انداز کښې وړاندې کوي چې د سانېټ وحدت خیال هم برقرار پاتې شي او د سانېټ په ساخت هم اثر پرې نۀ وځي.

دلته د نمونې په توګه د پېټرارک یو نظم راوړو کوم چې په انګرېزي رسم الخط کښې لیکلې شوې دې او یو انګرېز لیکوال Thomas Wentworth Higginson په انګلش کښې د هغې ترجمه کړې ده۔

LIETI fiori e felici, e ben nate erbe,
Che Madonna, pensando, premer sole;
Piaggia ch'ascolti sue dolci parole,
E del bel piede alcun vestigio serbe;
Schietti arboscelli, e verdi frondi acerbe;
Amorosette e pallide viole;
Ombrose selve, ove percote il Sole,
Che vi fa co' suoi raggi alte e superbe;
O soave contrada, o puro fiume,
Che bagni 'l suo bel viso e gli occhi chiari,
E prendi qualità dal vivo lume;
Quanto v'invidio gli atti onesti e cari!
Non fia in voi scoglio omai che per costume
D'arder con la mia fiamma non impari.[7]

د دې نظم د قافیو ترتیب ته که اوګورو نو د اولنۍ مثمن برخې د قافیو ترتیب ئې په دې ډول دے۔

ا---ب---ب---ا ، ا---ب---ب---ا

یعنې دا هم هغه ترتیب دے کوم چې پورته ښودلې شوے دے۔

د دې نظم د دویمې مسدس برخې د قافیو ترتیب داسې دے۔

ج---د---ج---د---ج---د

اوس که د دې نظم انګرېزي ترجمه اوګورو کومه چې Thomas Wentworth Higginson کړې ده نو د هغې د قافیو ترتیب هم د دغې اصل متن د قافیو د ترتیب په شان دے۔

O JOYOUS, blossoming, ever-blessed flowers!
'Mid which my pensive queen her footstep sets;
O plain, that hold'st her words for amulets
And keep'st her footsteps in thy leafy bowers!
O trees, with earliest green of springtime hours,
And all spring's pale and tender violets!

O grove, so dark the proud sun only lets
His blithe rays gild the outskirts of thy towers!
O pleasant country-side! O limpid stream,
That mirrorest her sweet face, her eyes so clear,
And of their living light canst catch the beam!
I envy thee her presence pure and dear.
There is no rock so senseless but I deem
It burns with passion that to mine is near[8]

په اطالوي ژبه کښې په ليکلې شوي دغه سانېټ که هر څو پوهېدل ګران کار دے خو ددغې نظم نه د مصرعو د قافيو او د هغې د ترتيب اندازه په اسانه لګېدے شي او بيا د نظم د انګرېزۍ ترجمې دغه خبره نوره هم اسانه کړې ده۔

(2) انګرېزي يا شېکسپئري سانېټ:

د ډاکټر سلمیٰ شاهين د وينا د مخې د سانېټ ددې قسم ابتداء د شپاړسمې صدۍ نه کېږي ۔ او ددې بنياد د انګرېزۍ ژبې مشهور شاعر شېکسپئر کېښودے دے ځکه ورته شېکسپئري سانېټ هم وائي ۔ د سانېټ په دې قسم کښې د قافيو شمېره زياته وي او په يو سانېټ کښې اووۀ مختلفې قافيې راوړې کېږي۔

د سانېټ دا قسم د دوؤ په ځائے په څلورو برخو کښې ويشل کېږي اولنۍ درې برخې چې د مربع په شکل کښې وي څلور څلور مصرعې لري په هره مربع کښې دوۀ مختلفې قافيې وي ۔ څلورمه برخه په دوؤ مصرعو مشتمله وي چې دواړۀ هم قافيه وي۔

ددې سانېټ د قافيو ترتيب په دې ډول وي ۔

اولنۍ مربع

-------۱-------ب-------۱------ب

دويمه مربع

-----ج-----د-----ج-----د

دریمه مربع:

-------ه------و-------ه------و

آخرۍ مربع:

-----ز-----ز

د انګریزي سانېټ په هره مربع یا څلوریزه کښې اولنۍ او دریمه مصرعه او بیا دوېمه او څلورمه مصرعه په خپلو کښې هم قافیه وي او دا هم یاد ساتل پکار دي چې د هرې مربع یا څلوریزې قافیې به د یو بل نه مختلفې وي او اخرۍ دواړه مصرعې یعنې دیارلسمه او څوارلسمه به هم قافیه وي ددې دواړو مصرعو قافیې به د وړمبنیو ټولو مصرعو نه بل رنګ وي۔

د سانېټ په دې قسم کښې د اول نه تر آخره یو خیال بیان شوې وي او لکه د پېټرارک سانېټ په دې کښې د ګرېز ضرورت نۀ وي ۔

(3) اسپنسري سانېټ

د انګرېزۍ ژبې یو بل شاعر د سانېټ په دې هیئت کښې نظمونه لیکلي دي دا هم د څوارلسو مصرعو نظم وي خو د هیئت په بنیاد د اولني دواړو ذکر شوي سانېټ نه مختلف وي د قافیې په بنیاد د دې سانېټ ترتیب داسې دے۔

اولنۍ مربع:

----ا----ب----ا---- ب

دوېمه مربع:

----ب----ج----ب----ج

دریمه مربع:

----ج-----د----ج----د

آخرې شعر:

-----د -----ه

په دې سانېټ کښې هم د پېټرارک سانېټ په شان پينځه قافيې وي او د شيکسپئېري سانېټ په رنګ دا هم په څلورو برخو کښې ويشل شوې وي . ددې سانېټ دهرې مربع اخرنۍ مصرعه د راروانې مربع د اولنۍ مصرعې سره هم قافيه وي او د شېکسپئېري سانېټ په مقابله کښې ددې د اخرې شعر دواړه مصرعې هم قافيه نۀ وي . يعنې دا د سانېټ يو داسې قسم دے چې د وړاندې ذکر شوې سانېټ د دواړو قسمونو خصوصيات پکښې په نظر راځې خو دې سانېټ ته په انګرېزي ادب کښې هغۀ مقام نۀ دې حاصل شوې کوم چې د پېټرارک او شيکسپېر سانېټ ته حاصل دے.

## په اردو کښې سانېټ:

په اردو کښې د سانېټ ابتداء د اختر شېراني د سانېټ نه شوې ده . په دې حقله ابو الاعجاز سرهندي لېکي:

"ایک بیان کے مطابق اردو کا پہلا سانیٹ ن م راشد نے لکھا تھا لیکن جو سانیٹ عوام کے سامنے شائع شدہ صورت میں آیا وہ اختر شیرانی کا تھا اور یوں (اردو میں) سانیٹ کے آغاز کا سہرا اختر شیرانی کے سر بندھا۔"[9]

ددوي نه علاوه چې کومو شاعرانو په اردو کښې د سانېټ صنف ته وده ورکړې ده د هغوي په حقله ډاکټر فرزانه غني ليکي:

" . . . د دوي نه علاوه په اردو کښې ډاکټر عظيم الدين، قاضي اخترجوناګړهي او عزيز تمنائي د سانېټ ليکونکي دي ."[10]

په اردو شعري ادب کښې د پورته ذکر شوو درې قسمونو نه علاوه د سانېټ نور هم دوۀ قسمونه په نظر راځې چې په هغې کښې يو ته " اردو سانېټ" او بل ته " شېراني سانېټ وائې . د ساخت په بنياد دغه دواړۀ سانېټ نظمونه د پورته ذکر شوي دريو سانېټ نه مختلف دي . د سانېټ ددغې دواړو قسمونو د قافيو ترتيب په دې ډول دے.

| اردو سانېټ | شېراني سانېټ |
|---|---|
| ا، | ا، |
| ب، | ب، |
| ب، | ب، |
| ا، | ا، |
| ج، | ا، |
| د، | ب، |
| د، | ب، |
| ج، | ا، |
| ھ، | ج، |
| و، | د، |
| و | د، |
| ھ، | ج، |
| ز، | ه، |
| ز | ه |

د اختر شيراني يو سانېټ کوم چې د دوي په کتاب "شعرستان(سانېټ)" کښې راوړې شوے دغه کتاب د لاهور، اردو اکېډمي لاهور، پنجاب له خوا په ۱۹۴۱ء کښې چاپ شوے دے د دغې نظم قافيې ئې هم په دغهٔ پورته ډول سره راوړې شوي دي ۔[11]

د موضوع په بنياد په سانېټ کښې هم د غزل په شان د عشق، ميني محبت او ښکلا خبرې کېږي خو ددې نه علاوه په سانېټ کښې د عشقيه موضوعاتو سره سره د مذهبي ، سياسي او د

فطرتي ښکلاګانو ذکر هم کېږي او د چاپېرچل په نورو موضوعاتو هم د نظم په دې صنف کښې لیکل کېږي خو بنیادي موضوع ئې هم د غزل په رنګ د عشق او میني نه چاپېره چورلي.

## په پښتو شعري ادب کښې سانېټ:

په پښتو شعري ادب کښې که اوګورو نو د نثري نظم په شان د نظم دا هیئت هم لا په خړپوسو دے او د ډاکټر سلمیٰ شاهین او ډاکټر عبدالله جان عابد د وینا له مخې د هاشم بابر په شمول یو څو شاعرانو که په دې کښې طبع آزمائي کړي هم ده خو بیا هم د نظم دې صنف یا هیئت په پښتو کښې لا هغه مقام نۀ دې حاصل کړې کوم چې په اردو او نورو مغربي ژبو کښې دې صنف ته حاصل دے. ډاکټر عبدالله جان عابد په پښتو کښې د سانېټ نظم په حقله لیکي:

> " پشتو شعرا نے سانیٹ لکھنے کا بھی تجربہ کیا اور یہ تجربہ کامیاب بھی رہا، مگر اس کی مشق نہیں کی گئی، لہٰذہ یہ تجربہ ایک تجربہ ہی رہا، تاہم معروف شاعر ہاشم بابر نے اس میں باقاعدگی سے طبع آزمائی کی اور ان کے طبع شدہ شعری مجموعوں میں اس کے متعدد نمونے ملتے ہیں۔ پشتو میں سانیٹ لکھنے والے دیگر شعرا میں: عبدالرحیم مجذوب، ڈاکٹر امین الحق امین، سلیم راز، اشرف مفتون، سید عبدالجمیل جمیل وغیرہم شامل ہیں۔"[12]

ډاکټر سلمیٰ شاهین هم د ښاغلي هاشم بابر نوم په هغۀ شاعرانو کښې اخلي چا چې په پښتو کښې سانېټ نظمونه لیکلي دي دوي لیکي:

> " دوي سانیټ او کېنټوز هم لیکلي دي. کوم چې د انګرېزي ادب د نظم اصناف دي دا ټول اصناف چې د مغربې ادب نه پښتو ته را اړوي او متعارفه شوي دي هاشم بابر پکښې لویه برخه لري."[13]

ډاکټر فرزانه غني په پښتو کښې د سانېټ د وړمبنیو شاعرانو په حقله لیکي:

> "... او په پښتو کښې هم دا صنف ډېر وروستو پښتو خپل کړے دے. اشرف مفتون او هاشم بابردې صنف وړمبیان دي."

هر څو که ډاکټر عبدالله جان عابد او ډاکټر سلمیٰ شاهین د نظم ددې صنف په حقله د ځینو پښتنو شاعرانو نومونه اخلي خو داسې نۀ ښکاري چې دغۀ شاعرانو په مستقله توګه سانېټ

لیکلے وي ځکه چې ډاکټرسلمیٰ شاهین د ښاغلي هاشم بابر د شاعرۍ کومه نمونه د سانېټ په حواله راوړې ده د هغې ټول کړۀ وړۀ د سانېټ نه بلکې د نثري نظم په رنګ ښکاري ۔ دغۀ نمونه راوړولو سره به خبره نوره هم په ډاګه شي ۔

دا هستي زما هستي ده
او که ستا د سترګو کښې دے
دا هستي زما هستي ده
که دا ستا د حسن رقص دے
ګني ځان چې ځان کښې ګورم
په تیارۀ کښې تالا کېږي
خپله سا راته بلا شي
له وجوده ئې بوګنېږم
دا چې تۀ ئې دا خو زۀ یم
دا زما د هستۍ راز دے
دا زما بې وسه چغه
د ازل شته سوے ساز دے[14]

د ډاکټر سلمیٰ شاهین دنمونې په توګه راوړې دغې نظم ته که اوګورو نو په دې کښې د مصرعو شمېره دولس ده او ددې نمونې راوړو نه مخکښې هم په دغه مخ ډاکټر سلمیٰ شاهین د سانېټ پېژندګلو داسې لیکي چې: "د څوارلسو کرښو یو ورکوټي شان نظم ته سانېټ وائي ۔"[15]

دغې تعارف او د سانېټ دې نمونې ته که اوګورو نو په دواړو کښې یو قسم تفاوت په نظر راځي یو طرف ته ډاکټر سلمیٰ شاهین د څوارلسو مصرعو نظم ته سانېټ وائي او بل طرف ته د نمونې په توګه د دولسو مصرعو یو نظم راوړي ۔مطلب دا چې د ډاکټر سلمیٰ شاهین دغه راوړې شوې نظم سانېټ نظم نه بلکې ازاد نظم ښکاري ځکه چې ددې نظم د قافیو ترتیب هم د سانېټ د

یو قسم سره سمون نۀ خوري ،نۀ خو دا په پېټرارک هیئت کښې لیکلے شوے دے ،نه په انګرېزي یا شېکسپیئري هیئت کښې او نه دا د اسپنسري سانېټ په هیئت کښې لیکلے شوے دے ـ

ډاکټر سلمیٰ شاهین د هاشم بابر دغه یو بل د دولسو مصرعو نظم هم د نمونې په توګه په خپل دغه کتاب کښې راوړے دے چې د سانیټ د فني جوړښت په بنیاد پرې د سانیټ ګمان نۀ کېږي ـ

زۀ جادوګر یم
جادو کوم په ځان
چې ځان لتاړ کړم
تۀ جادوګره
جادو کوې په ځان
چې ځان لتاړ کړې
مونږه دواړه
د ځان د لاسه اوتر یو
په اوتو بوتو سر یو
مونږ له ځان سره که نۀ یو
خو په ځان اخته یو
یو بل سره یو[16]

ددې نظم کړۀ وړۀ هم د سانېټ نه بلکې د نثري نظم ښکاري ،نۀ خو ئې د کرښو شمېره څوارلس ده او نۀ پکښې د وزن او قافیو ترتیب د سانېټ په شان دے ـد قافیو د ترتیب په بنیاد چې د سانېټ کوم پنځه قسمونه ذکر شو په هغې کښې یو هم ددې پورته ذکر شوي نظم د قافیو سره سمون نۀ خوري ـ

د ډاکټر سلمیٰ شاهین د وینا د مخې د هاشم بابر دغۀ نظمونه که د سانیټ په حواله یوه نوې تجربه هم وي خو سانیټ ورته بیا هم نۀ شو وئېلے ځکه چې د سانیټ د پاره بنیادي څیز څوارلس مصرعې وي کومې چې په دغۀ دواړو نظمونو کښې په نظر نۀ راځي ـ

دغه رنګ ډاکټر فرزانه غني هم پروفېسر محمد نواز طائر ته د سانېټ د فن ډېر ښهٔ لیکوال وئیلے دے دوي لیکي:

" ۔ ۔ ۔ خو پروفېسر محمد نواز طائر د دې فن ډېر ښهٔ لیکوال دے د هغوي د شاعرۍ په ډېرو مجموعو کښې د سانټ نمونې موندے شي دلته د طائر صېب د کتاب " وروستے دیدن" نه یوه غوره نمونه پېش کوم۔"[17]

او بیا چې ډاکټر فرزانه غني د پروفېسر محمد نواز طائر کومه نمونه راوړې ده نو دا د هیئت او جوړښت په بنیاد ټول په ټوله غزل ښکاري چې یو اځې د څوارلسو مصرعو په بنیاد ورته ډاکټر فرزانه غني سانېټ وئیلے دے نور پکښې نه خو د قافیو د ترتیب په بنیاد د سانېټ څهٔ اثار ښکاري او نهٔ پکښې لکه د نظم یو خیال یا یو تاثر بیان شوے دے ۔ د دغې نمونے راوړلو سره به خبره نوره هم واضحه شي۔

څــــومره خــــوږې دې د اشــــنا خبــــرې
زړهٔ تـــــه نـــــزدې د دلربــــا خبــــرې
ځـــان لـــه چـــې ناســـت یـــم هاغـــه وخـــت یـــادوم
چـــې بـــه کـــولے تـــا او مـــا خبـــرې
دنیـــا پـــه تېـــره ده چـــې مـــونږه نـــهٔ یـــو
خلـــق بـــه کـــړي زمـــا او ســـتا خبـــرې
د ژوندانــــه د روداد ټولــــه قیصــــۍ
څـــهٔ د خنـــدا څـــه د ژړا خبـــرې
مـــا د رېبـــار د خلـــې بـــه تـــل اورېـــدې
ځینـــې خطـــا څـــه وار خطـــا خبـــرې
د رقیبـــانو خولـــه ســـورۍ نغـــاره
چرتـــه چـــې کېښـــني کـــړي پـــه مـــا خبـــرې
ســـحر ســـبا د هـــر بلبـــل پـــه ژبـــه

طائره اورمه یو ستا خبرې[18]

یاده دې وي چې ډاکټر کرن خان هم په خپله مقاله کښې د پروفېسر محمد نواز طائر دغه غزل د ډاکټر فرزانه غني په حواله د سانېټ د نمونې په توګه راوړے دے ۔[19]

پخپله نواز طائرصېب نۀ خو ددې کتاب په سریزه کښې د سانېټ څه ذکر کړے دے او نۀ ئې په دې کتاب کښې داسې نظمونه شته چې د ساخت په بنیاد د سانېټ سره سمون خوري خو بیا هم که د څوارلسو مصرعو په بنیاد دغې شعرونو ته د سانېټ یوه نوې تجربه اووایو نو پکار ده چې ورته غزل نما سانیټ اووئېلے شي ځکه چې زیات کړۀ ورۀ ئې غزل ته ورته دي او یوائې د څوارلسو مصرعو په وجه ورته سانیټ وئېلے شو ۔ او کۀ داسې وي نو بیا د پروفېسر محمد نواز طائر په دې کتاب " وروستے دیدن " کښې یو شمېر داسې نور نظمونه یا غزلې هم په نظر راځي چې څوارلس مصرعې لري لکه د دې کتاب په اوویشتم مخ دغۀ شعرونه چې:

صومعات چې د رندانو په لاس وا شو
صومعه ئې هم هې خوا کښې سنیما شو

کۀ جامونه صراحۍ پکښې ماتېږي
مېکده کښې دا الزام وایه په چا شو
مونږ د غرونو لېوني په غرونو سر یو
کاڼي وولو خبردار کۀ وار خطا شو
دغۀ جام وو د بل څۀ کۀ د شرابو
ستا په لاس چې مېخانه کښې راعطا شو
د ګلونو شوکولو وار خو ستا وو
د ازغو راټولولو وار زما شو
دګه نول د جوړېدو نۀ دې مهجوره

چـــې بنـــدیز دې پـــه دیـــدن د دلربـــا شـــو

حـــق الله ! د دیـــدن خبـــر بـــه ورنـــه غـــواړي
چـــې طـــائر مـــې د جانـــان د درګـــدا شـــو[20]

خو دلته هم دغهٔ خبره ده. مطلع، په هره دوېمه مصرعه کښې قافیه، په هر شعر کښې بېل خیال او په اخره کښې د مقطعې نه دا خبره په ډاګه کېږي چې دا سانېټ نه بلکې غزل دے .

څنګه چې د ښاغلي هاشم بابر داسې ازاد او نثري نظم ته چې مصرعې ئې هم دولس دي سانېټ وئېلے شوے دے او یا د پروفېسر محمد نواز طائر غزلو ته سانېټ وئېلے شوے دے نهٔ ده معلومه چې دغه لیکوالانو په کوم بنیاد دې ته سانېټ وئېلي دي خو ما چې د ښاغلي هاشم بابر او پروفېسر محمد نواز طائر کومه شاعري لوستي یا کتلي ده په هغې کښې داسې نظمونه نشته چې د سانېټ نظم په فني لوازماتو پوره وي . ددغې پورته دوؤ نمونو نه دا اندازه هم لګي چې په پښتو شعري ادب کښې تر کال ۲۰۲۲ء پورې کوم یو شاعر هم په مستقله توګه سانېټ نهٔ دې لیکلے. او داسې ښکاري چې د دوي نورو شعري صنفونو ته د سانېټ نوم ورکړے شوې وي .

البته ډاکټر شېرزمان سیماب یو نظم چې د سوات کبل د پولیس سټېشن د دهماکے د بدې پېښې په تناظر کښې ئې لیکلے دے دغه پېښه د روان کال یعنې کال ۲۰۲۳ ء د اپریل په پنځه ویشتمه نېټه مخښې ته راغلې وه . د دغې پېښې په تاثر کښې د ډاکټر شېرزمان سیماب دغهٔ نظم د انګرېزي یا شیکسپئري سانېټ په هیئت کښې لیکلے شوے دے او ممکنه ده چې دا به په پښتو کښې اولنے نظم وي چې د شېکسپئرې سانېټ په فني لوازماتو به تر ډېره حده پوره وي . نظم په دې ډول دے.

خـــدائے دې بیـــا راتـــه دا ســـوات د امـــن کـــور کـــړي
چـــــې رنګونـــــه بهارونـــــه هـــــره خواشـــــي

د جنـــګ نـــوغـې دې ددې خـــاورې نـــه خـــور کـــړي
ښائســـتونه چــې د ژونـــد ئـــې پـــه ګـــډا شـــي
پـــه تـــاريخ کښـــې چـــې د نمـــر ځمکـــه يـــادېږي
لکـــه نمـــر دې اوځلېـــږي پـــه اســـمان کښـــې
بلـــبلان چـــې ئـــې پـــه ګـــل حســـن چغېـــږي
چـــې ســـندرې وي د ژونـــد پـــه ګلســـتان کښـــې
هغـــه ســـوات چـــې ښائســـتونه ئـــې دنيـــا کښـــې
هـــم ئـــې حســـن مشـــهور پـــه کـــل عـــالم وو
اوس ورغلـــې دے پـــه خلـــه د يـــو بـــلا کښـــې
چـــــې امـــــين د تهـــــذيبونو محتـــــرم وو
ســـوات چـــې ځـــائے د اولســـونو د نشـــاط دے
پـــــه دوران د ظالمـــــانو وران ربـــــاط دے[21]

د ډاکټر شېرزمان سيماب يو بل د رومانوي فکر د اثر لاندې ليکلې شوے نظم چې د پېټرارک سانېټ په هيئت کښې ليکلې شوے دے .

ستا يادونه ستا فکرونه
زما زړۀ کښې راغونډېږي
زما زړۀ کښې تل اوسېږي
ستا سوچونه ستا خيالونه
ستا ادا او ستا نازونه
راته مخکښې مخکښې کېږي
تل په زړۀ مې راورېږي
کۀ بيا اوشي ديدنونه
که بيا چرته کښې ته راشې

بیا دې اووینم جانانه
زما ځنګ کښې په خندا شې
ته ټول عمر له زما شې
لاس چاپېره کړې زما نه
ټول ادا ، ادا، ادا شې[22]

د ډا کټر شبرزمان سیماب دغه نظم د پېټرارک سانېټ په هیئت کښې لیکلے شوے دے ددې اولنۍ حصه کومې ته چې مثمن وائې د پېټرارک د سانېټ نظم په طرز لیکلے شوي ده . دوېمه برخه چې شپږ مصرعې لرې او مسدس ورته وائې د هغې د قافیو ترتیب په دې ډول دے.

ج ،د ،ج،ج، د ،ج.

د ډاکټر شبر زمان سیماب د نظم ددغې دوېمې برخې د قافیو ترتیب د ډاکټر فرزانه غني په کتاب کښې د ورکړې شوي پېټرارک سانېټ په ترتیب سره دے .

ډاکټر فرزانه غني د پېټرارک سانېټ د قافیو ترتیب داسې ښودلے دے .

"ا ، ب، ب، ا ، اب،ب ا ،ج د ج،ج د ج" [23]

ډاکټر عارف نسیم هم په خپل کتاب" ادبي تنقید څنې ځانګې اړخونه" کښې د قافیو ترتیب په دغهٔ ډول ښودلے دے .[24]

د پېټرارک نظم د دوېمې برخې یعنې د مسدس برخې د قافیو کوم ترتیب چې پورته ذکر شوے دے او کوم چې عرفان جامعي په خپل ویب سائټ پاڼه ورکړے دے په دواړو کښې د سانېټ په دوېمه برخه کښې د قافیو د ترتیب دغه فرق ښکاره دے . ځکه چې عرفان جامعي د پېټرارک د سانېټ مسدس برخه د قافیو د ترتیب په بنیاد په دوهٔ قسمه ښودلي ده په هغې کښې د دوهٔ قافیه لرونکي مسدس ترتیب په دې ډول دے. ج،د ،ج،د ، ج، د . او بل ترتیب په کوم کښې چې په مسدس برخه کښې درې قافیې راوړې شوي دي د هغې ترتیب په دې ډول دے . ج، د ، ه، ج، د ، ه ." [25] ددې وجه داده چې د پېټرارک سانېټ د دوېمې برخې یعنې مسدس د قافیو ترتیب ډېرو لیکوالانو د خپلو خیالاتو د اظهار د پاره وخت په وخت بدل کړے دے. خو ولې د پېټرارک

سانېټ د اولنۍ برخې د قافيو ترتيب به همېشه هم په دغهٔ پورته ذکر شوي ډول وي. لکه څنګه چې يو انګرېز ليکوال .Paul Fussell د پېټرارک سانېټ په حقله ليکي:

> ترجمه: د پېټرارک سانېټ، چې لږترلږه د هغې په اېټالوي ژبه کښې دے، په عمومي ډول د نظم يو ترتيب شوے قسم دے، کوم چې په لاندې ډول مخ په وړاندې ځي: abba abba cdc dcd. لومړنۍ اته کرښې، يا "اوکټېو(مثمن)" اکثر د "ا،ب ،ب ا ،ا ،ب،ب،ا ترتيب څخه انحراف نهٔ کوي، مګر وروستۍ شپږ کرښې، يا "مسدس" په مکرر ډول بېلابېل ترتيبونه لري، لکه "cde cde ، cde ced" "، يا "cdc dee."

د ډاکټر شبر زمان سيماب ددغې نظم ساخت هم پوره پوره د پېټرارک سانېټ ساخت ته ورته ښکاري . ځکه چې د قافيو ترتيب ئې د پېټرارک سانېټ په شان دے.

دپښتونخوا سيمې سره تعلق لرونکي يو بل ځوان او ځلمي شاعر عرفان الله طغياني هم په سانېټ نظم طبع آزمائي کړې ده . د دوي نظم هم هر څو که د چاپ د مرحلے نه نۀ دې وتې خو د دوي په قلمي نسخه کښې محفوظ دے. د دوي دغه يو نظم د نمونې په توګه کوم چې د پېټرارک سانېټ نظم په هيئت کښې ليکلے شوے دے او په فکري ډول پکښې د ترقي پسندۍ اثرات په نظر راځي د بېوسه او غريبي طبقې درد او غم ئې پکښې ژړولے دے او د معاشرې په هغې غټانو او بې رحمه انسانانو ئې په دې نظم کښې نيوکه کړې ده کوم چې د غريب اولس په وينو پائي . د دې نظم ساخت هم د پېټرارک سانېټ د هغې هيئت په شان دے کوم چې ډاکټر عارف نسيم او ډاکټر فرزانه غني په خپلو کتابونو کښې ښودلے دے او په کوم ساخت کښې چې ډاکټر شبرزمان سيماب خپل دغه پورته ذکر شوے نظم ليکلے دے. نظم په دې ډول دے.

ما دا خپله بے وسی خوري
سرمايه چې تولهٔ ستا شوه
دکور ګوټ کې دې رنړا شوه

ټوک ډوډۍ زما بچي خوري
غوښه ستاسو ازمرې خوري
مونږ ته ډېره که دنیا شوه
چي نزدې شوه نو پناه شوه
خپل قسمت مې د تندي خوري
که غربت مرې نو مړ کېږم
که ئي اور داسې بلېږي
ته تودېږې زه سوزېږم
حق حېران یم نه پوهېږم
چي به څه مخه پېښېږي
د خپل ځان سره ګنړېږم[26]

[1] - پروفېسر عارف نسیم ، ادبي تنقید څنې ځانګې اړخونه، پېښور، امین پرنټنګ پریس، جون ۲۰۰۷ء، مخ:۲۰۵

[2] - پښتونخوا جرنل ، والیوم ۶، جنوري، جون ۲۰۲۱، مخ ۱۲

[3] - ډاکټرسلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښې، (دوېم چاپ)، هم دغه اثر، مخ:۳۹۹

[4] - فرازانه غني، ډاکټر، ادبي اصناف(تحقیقي مقاله) پېښور، اعراف پرنټرمحله جنګي، ستمبر ۲۰۱۹ء ، مخ ۱۶۸:

[5] - ابو الاعجاز صدیقي حفیظ ، کشاف تنقیدی اصطلاحات، مقتدره قومی زبان اسلام آباد ، 1985ء، مخ: 97

[6]. Poetic Meter and Poetic Form, by Paul Fussell. New York: Random, 1979. Chapter 7.

[7] . Francesco Petrarca، Fifteen sonnets of Petrarch(Translation book) [EBook #50307], October 25, 2015. Page:2

[8] .. Fifteen sonnets of Petrarch(Translation book) [EBook #50307], October 25, 2015. Page:3

[9] - ابو الاعجاز صدیقي حفیظ، ، کشاف تنقیدی اصطلاحات ،هم دغه اثر، مخ ۹۸

[10] ـ فرازانه غني، ډاکټر، ادبي اصناف(تحقیقي مقاله)، هم دغه اثر، ۱۶۹

[11] ـ اختر شيراني ،شعرستان(سانېټ) لاهور، اردو اکېډمي لاهور، پنجاب، ۱۹۴۱ء، ص: ن،م

[12] ـ ډاکټر عبدالله جان عابد ، پشتو زبان و ادب کي مختصر تاريخ، (طبع دوم)، مخ: ۱۹۸

[13] ـ ډاکټرسلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښې، (دوېم چاپ)، هم دغه اثر، مخ:۳۹۸

[14] ـ هم دغه اثر، مخ: ۴۰۰

[15] ـ هم دغه اثر ، مخ: ۳۹۹

[16] ـ هم دغۀ اثر ـ مخونه، ۴۰۰، ۴۰۱

[17] ـ ډاکټر فرزانه غني، ادبي اصناف(تحقیقي مقاله)، هم دغه اثر، مخ: ۱۶۹

[18] ـ هم دغۀ اثر، مخونه: ۱۶۹، ۱۷۰

[19] - پښتونخوا جرنل ، واليوم ۶، جنوري، جون ۲۰۲۱، مخ:۱۳

[20] ـ پروفېسر محمد نواز طائر، وروستے دیدن، پېښور، جدون پرنټنګ پریس، ۲۰۰۹ء، مخ: ۲۷

[21] ـ ډاکټر شېرزمان سيماب ، قلمي نسخه

[22] ـ ډاکټر شيرزمان سيماب، قلمي نسخه

[23] ـ ډاکټر فرازانه غني، ادبي اصناف(تحقیقي مقاله)، هم دغه اثر، مخ: ۱۶۹

[24] ـ پروفېسر عارف نسيم ، ادبي تنقيد څنې څانګې اړخونه، پېښور، امين پرنټنګ پریس، جون ۲۰۰۷ء، مخ:۲۰۵

[25] ـ irfan jamiعرفان جامعی.Website Built with WordPress.com

[26] ـ عرفان الله طغياني، قلمي نسخه